# په جوارۍ کښې ګټلے شوے مال

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

دا مضمون ''غیبت کی تباہ کاریاں'' صفحه 178 تا 194، 210 تا 214 نه اخستے شوے دے

# په جوارئ کښې کټلے شوے مال

دُعائے عطّار: یا اللہ پاکه! چې څوک هم دا رساله ''په جوارئ کښې کټلے شوے مال'' اولوَلي یا ئې واورِي، هغه او د هغه راتلونکي نَسلونه د جوارئ د بیمارئ نه محفوظه اُوساتې او په رزقِ حلال قَناعت ورکړې او ستا نه علاوه ئې د هیڅ چا محتاجه نه کړې-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرود شریف فضیلت

حضرت علامه مَجدُالدّین فیروز آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه منقول دي چې کله په یو مجلس (یعني خلقو) کښې کښینې نو اووایه: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَصَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد نو الله پاک به په تا باندې یوه فرښته مقرره کړي چې هغه به تا د غیبت [کولو] نه ساتي- او چې کله د مجلس نه پاڅې نو اُووایه: : بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَصَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد نو فرښته به خلق ستا د غیبت نه منع ساتي- (القول البديع، ص278)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## غیبت کوونکے قابلِ رَحم دے!

یو بزرګ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته چا اووئیل: فلانکے کس ستاسو دومره بد بیانوي چې زما په تاسو باندې رحم راشي- نو هغه [بزرګ] اوفرمائیل: ''قابلِ رحم خو هغه کس یخپله دے-'' (تفسیرِ قرطبی 8/242)

سُبحان الله! زمونږ د بزرګانو اخلاص او اخلاق مرحبا! د هغوئي د مدني سوچ به څه وائې چې د داسې کس په خبره هم غصه نه ورتله کوم چې به په هغوئي پورې ډیرې زیاتې بدې وئیلې بلکه زړه ئې مطمئن دے چې زما څه نقصان کیږي! غیبت کوونکے پخپله نقصاني کیږي او هغه ناپوهه په دې معنٰی هُم قابلِ رحم هم دے چې خپلې نیکئ بربادوي، ګناهګاریږي او د هغې په سبب د اور مستحق ګرځي۔

دردِ سر ہو یا بخار آئے تڑپ جاتا ہوں
میں جہنّم کی سزا کیسے سہوں گا یارب!
عفو کر اور سدا کیلئے راضی ہو جا
گر کرم کر دے تو جنّت میں رہوں گا یارب!

## د مات ګوَډ غیبت

تابعي بزرګ حضرت سیدنا معاویه بن قُرّه رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ فرمائي: ''که ستاسو په خوا څوک ګوَډ [یا بل معذوره کس] تیر شي او تاسو د هغه د ګوَډ والي [یا بلې معذورئ] د عیب تذکره اوکړئ نو دا هم غیبت دے۔'' (تفسیر در منثور، 571/7)

معلومه شوه چې یو ګوَډ ته هم بِلا اجازتِ شرعي پشي شا ګوَډ وئیل غیبت دے دغه شان چا ته ❀ ګوَډ، شل، ❀ ګنجا، ❀ ړوند، ❀ چقوړ، ❀ نِیم ژبے، ❀ چاړا، ❀ کُونړ او ❀ شا بُوکے وغیره وئیل هم غیبت دے۔

## د جوارئ د کاروبار نه توبه

د غیبت کولو اَوریدلو عادت لرې کولو او د لمُونځونو او سنّتو عادت جوړولو د پاره د دعوت اسلامي دِیني ماحول سره هر وخت وابسته اوسئ، د سنّتو د تربیّت د پاره په مدني قافلو کښې د عاشقان رسول سره د سنّتو ډک سفر کوئ، کامیاب ژوند تیرولو او آخرت جوړولو د پاره د نیک اعمالو مطابق عمل کوئ او هره ورځ د [خپلو اعمالو د] جائزے اخستلو په ذریعه [د نیک اعمالو] رساله کښې خانې ډکوئ او د هرې میاشتے په یکم تاریخ ئې خپل ذمه دار ته جمع کوئ۔ ستاسو د ترغیب د پاره یو مدني سپرلے پیش کووم۔

چنانچه سوئي ډويژن ډيره بُګټي (بلوچستان) کښې د يو سکول استاد څه داسې حلفيه تحرير راکړے دے چې د يو سکول استاد به د تَمبُولا (يوه لوبه چې په هغې کښې د پيسو جواري کيږي»، د هغې) دوکان چلَوَلو- 2004ء کښې د صوبه سنده په سطح باندې صحرائے مدينه (کراچۍ) کښې کيدونکي د عاشقان رسول ديني تحريک، دعوت اسلامي د درې ورځو د سنّتو نه ډکې اجتماع کښې هغه ته د شرکت کولو سعادت ملاؤ شو په آخره کښې چې کله دعا اوشوه نو هغه په ژړا شو او د تيرو تولو ګناهونو نه توبه کولو سره سره ئې [پيېنځه وخته] لمُونځ جَمعې سره د ادا کولو نيت هُم اوکړو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اجتماع نه واپس راتللو سره ئې د تمبولا کار بالکل ختم کړو، ګيره ئې پريښودله او په سکول کښې ئې درس هم جاري کړو او د دعوت اسلامي په مَدرَسةُالْمَدينه (برائے بالغان) کښې ئې د قرآن پاک سبق وئيل هُم شروع کړو-

## جواري حرامه ده

**خوږو اسلامي ورونړو!** د دعوت اسلامي د سُنّتو ډکو اجتماع ګانو به څه وائې! د الله کريم په رحم معلومه نه ده چې [د دې اِجتِماعاتو په بَرَکت به] د څومره خلقو په زړونو کښې مدني انقلاب پيدا شوے وي، په دې اجتماع ګانو کښې شرکت د دوارو جهانو د پاره باعث د سعادت دے- اوس اوس تاسو يو مدني سپرلے واوريدو چې په هغې کښې د تَمبُولا د کاروبار نه د توبه کولو تذکره ده- تَمبُولا د ”جوارئ“ يو قسم دے، په جوارئ کښې د يو بل مال په ناحقه خوړلے کيږي او داسې کول شرعاً حرام دي. جواري کول، د جوارئ اډّه چلَوَل د جوارئ آلات خرڅول اخستل ادا ټول په اسلام کښې حرام او جهنّم ته بوتللو والا کارونه دي- افسوس! نن صبا په مسلمانانو کښې جواري کول ډير عام شوي دي، د جوارئ داسې صورتونه هم شته چې خلق په هغې کښې د کم علمئ په وجه اخته کيږي- لِهٰذا ښو ښو نيتونو سره د جوارئ په باره کښې څه معلومات حاصل کړئ-

## جواری کول ګناه ده

دویمه سیپاره سُوْرَةُ الْبَقَرَہ آیت نمبر 219 کښې اللہ پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| یَسْـٴَـلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَ الْمَیْسِرِؕ قُلْ فِیْهِمَاۤ اِثْمٌ كَبِیْرٌ وَّ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ٘ وَ اِثْمُهُمَاۤ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَاؕ وَ یَسْـٴَـلُوْنَكَ مَا ذَا یُنْفِقُوْنَ۬ؕ قُلِ الْعَفْوَؕ كَذٰلِكَ یُبَیِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰیٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَۙ(۲۱۹) | [مَفہوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: تاسو نه د شرابو او جوارئ د حُکم تپوس کوي، تاسو اوفرمائے چې په دې دواړو کښې لویه ګناه ده او د خلقو څه دنیوي ګټې هم، او د دې دواړو ګناه د دوئي د ګټې نه لویه ده- |

حضرت علامه مولانا سید نعیم الدین مراد آبادي رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ خزائنُ العِرفان کښې د دې آیت نه لاندې لیکي: په جوارئ کښې کله د مُفتو مال په لاس ورځي او د ګناهونو او خرابو خو ئي څه شمیر نِشته! د عقل زوال، د غیرت او حمیّت زوال، د عبادتونو نه محرومي، خلقو سره دشمنئ، د خلقو په نظر کښې ذلیله کیدل د مال و دولت ضائع کیدل (یعني بربادیدل)- (خزائن العرفان، ص 73)

## جواري شیطاني کار دے

اوومه سیپاره سورۂ المآئدہ آیت نمبر 90 تا 91 کښې اللہ پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَ الْمَیْسِرُ وَ الْاَنْصَابُ وَ الْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّیْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ(۹۰) اِنَّمَا یُرِیْدُ الشَّیْطٰنُ اَنْ یُّوْقِعَ بَیْنَكُمُ | [مَفہوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ایمان والؤ! شراب، جواري، او بُتان او د قسمت معلومولو غشي ویشتل ناپاکه دي، شیطاني کارونه دي نو د دې نه ځان ساتئ د پاره د دې چې تاسو کامیاب شئ. شیطان هم دا غواړي چې ستاسو په مینځ |

| | |
|---|---|
| اَلْعَدَاوَةَ وَ الْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَ الْمَيْسِرِ وَ يَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ عَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ﴿۹۱﴾ | کښې دُشمني او بغض پيدا کړي په شرابو او جوارئ سره او تاسو د **الله** پاک د ذِکر نه منع کړي او د لمونځونو نه مو حصار کړي نو آيا تاسو منع شوئ؟ |

حضرت عَلّامه مولانا سيد محمد نعيم الدين مراد آبادي رحمۃ اللہ تعالی علیہ خزائن العرفان کښې د دې آيت نه لاندې ليکي: په دې آيت کښې د شرابو او جوارئ د نتيجو او وبال بيان شوے دے چې د شرابو څښلو او جوارئ کولو يو وبال خو دا دے چې د دې په ذريعه خپل مينځ کښې بُغض او دشمني پيدا کيږي او چې کوم کس په دې بدو کښې اخته شي نو هغه د **الله** پاک د ذکر او د لـمانځه د وختونو نه محرومه شي- (خزائن العرفان، ص 236)

## جوارئ کښې کټلے شوے مال حرام دے

دويمه سيپاره سورۃالبقرۃ آيت نمبر188 کښې **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ (پ2، البقرہ: 188) | [مَفہوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او په خپل مينځ کښې د يو بل مال په ناحقه مه خورئ- |

حضرت علامه مولانا سيد نعيم الدين مراد آبادي رحمۃ اللہ تعالی علیہ خزائن العرفان کښې د دې آيت نه لاندې ليکي: په دې آيت کښې باطله طريقه باندې د چا مال خوړل حرام قرار شوي دي، که هغه لوټ کړے شي يا که په زور يا په غلا يا په جوارئ سره يا د حرامو تماشو يا حرامو کارونو يا حرامو څيزونو په بدله کښې يا د رشوت يا د دروغو د ګواهئ يا چغل خورئ په ذريعه حاصل کړے شي دا ټول ممنوع و حرام دي- (خزائنُ العرفان، ص 63)

## داسې ده لکه چې د خنزير په وينه او غوښه کښې ئې لاس ډوب کړل

نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې په نَرد شير (د جوارۍ کولو په يو سامان دے په هغې) جواري اُوکړه نو داسې ده لکه خپل لاس ئې چې د خِنزِير په غوښه او وِينه کښې ډوب کړو- (ابن ماجه، 231/4، حديث:3763)

## د جوارۍ دعوت ورکوونکے دِ په کفّاره کښې صَدَقَه اُوکړي

د نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې خپل ملګري ته اُووَئيل: "راځه! چې جوارِي اوکړو-" نو هغه (ويُونکي) ته پکار دي چې صدقه اوکړي- (صحيح مسلم، ص692، حديث:4260) حضرت علامه يحيٰي بن شرف نَوَوِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديث په شرح کښې ليکي: علمائے کرام فرمائي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صدقے حکم په دې وجه ورکړے دے چې دې کس د ګناه دعوت ورکړے وو، حضرت علامه خِطابي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه وئيلي دي چې د څومره پيسو د جوارۍ ئې وئيلي وو هم د هغه همره پيسو صدقه دِ اوکړي خو صحيح خبره هغه ده کومه چې مُحقِّقِينو بيان کړي ده او هم دا د حديثِ پاک ظاهر دے چې د صدقے څه مقدار معيّن نه دے، په آسانۍ سره چې څومره صدقه کولے شي او دِ ئې کړي -(شرح مسلم للنووی، 107/11)

اعلٰي حضرت، امام اهلسنّت، مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فتاوٰي رضويه جلد 19صَفْحَه 646 کښې فرمائي: سُود او غلا او غصب او د جوارۍ روپۍ قطعاً حرامې دي-(فتاوٰی رضویه، 646/19)

## د جوارۍ تعريف

جوارۍ ته په عربۍ کښې قِمار وائي د دې تعريف ملاحِظه کړئ: حضرت مير سيد شريف جُرجاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ليکي: هره هغه لوبه چې په هغې کښې دا شرط وي چې د مَغلُوبه (يعني ناکامه کيدونکي) يو څيز غالِب (يعني کامياب کيدونکي) ته ورکړے شي دا "قِمار" (يعني جواري) ده- (التعريفات، 126)

# د جوارئ شپږ صورتونه

**اے عاشقانِ رسول!** نن صبا په دنیا کښې د جوارئ نوې نوې طریقے رائج دي، په هغې کښې شپږ دا دي:

## ﴿1﴾ لاټري

په دې طریقهٔ کار کښې خلقو ته د لکونو کروړونو انعاماتو لالچ ورکولے کيږي او لکونه ټکټونه په معمولي رقم خرڅ کړے شي بیا د قرعه اندازئ په ذریعه کامیابیدونکو باندې یو څو لاکه یا یو څو کروړه روپئ تقسیم کړے شي او د باقي کسانو رقم ډوب شي، دا هم د جوارئ یو صورت دے او دا حرام او جهنم ته بوتلونکے کار دے.

## ﴿2﴾ د پرائز بانډ پرچي

حکومتِ پاکستان د مختلفو قیمتونو انعامي بانډز د بینک په ذریعه جاري کوي او د شیډول مطابق په هره میاشت کښې د قرعه اندازئ په ذریعه د لکونو روپو انعامات په خلقو تقسیمَوِي، د چا چې انعام نه وي راختلے د هغه رقم هُم محفوظ وي، هغه چې کله غواړي هغه نقد رقم راوِیستلے شي، دا جائز دي او په جوارئ کښې داخل نه دي- البتّه د یو څو قسمونو پرائز بانډونه داسې دي چې هغې ته ”پریمیَم پرائز بانډ“ وائي، په هغې باندې یقیني طور ګټه ملاویږي، دا سُود دے او د دې اخِستل، خرڅَول او ګټه اخستل شرعاً جائز نه دي (بعضې وختونو کښې داسې هم کیږي چې د کومو پرائز بانډونو لَین دَین او په هغې باندې د انعام صورت جائز هم وي، د هغې متعلق پالیسي بدله شي یا په هغې کښې هم څه غیر شرعي معامله شامله کړے شي، په داسې صورت کښې به د هغه وخت د پالیسئ مطابق حُکمِ شرعي وي- په داسې موقع باندې د شرعي رهنمائي د پاره د ”دعوت اسلامي دارالافتاء اهلسنّت“ سره رابطه کوئ) یاد ساتئ!د انعامي بانډز د پرچو اخستل او خرڅول، غیر قانوني، ناجائزه او حرام دي څکه چې خرڅوونکے د حکومت پاکستان له طرفه جاري شوي پرائز بانډونه ځان سره

ګړدي (بلکه بعضې وخت خو پرائز بانډ هم خرخوونکي سره نه وي بلکه) پرچئ خرخوونکے خريدار ته د لږ رقم په بدله کښې په پرچئ باندې صرف يو نمبر ورکړي چې که په دې نمبر انعام راوُوتو نو زه به تاله دومره رقم درکووم- د انعامي پرچئ دا کار هم جواري ده ځکه چې په دې کښې هُم د انعام نه راوتلو په صورت کښې د اخستونکي رقم ډوب شي-

## ﴿3﴾ د موبائل ميسجونه او جواري

په موبائيل باندې په مختلفو سوالونو مشتمل ميسجونه راځي چې په هغې کښې: مثلاً کوم ټيم به ميچ ګټي؟ يا پاکستان په کومه ورځ آزاد شوے وو؟ د صحيح جواب ورکوونکو د پاره مختلف انعامونه وي، د شرکت کوونکي د "موبائيل بيلنس" نه لږ رقم مثلاً لس روپئ کټ شي، د چا چې انعام راونه خِيژي د هغوئي رقم ضائع شي، دا هم جواري ده او حرام او جَهنَّم ته بوتلونکے کار دے-

## ﴿4﴾ مُعمّه

په دې کښې يو يا د يو نه زيات سوالونه د حل کولو د پاره ورکړے شي که حل د منتظمينو د مرضئ مطابق وي نو هغه حل کوونکي ته انعام ورکولے کيږي، د انعامونو تعداد درې يا څلور يا د دې نه زيات هم کيدے شي- لهٰذا د صحيح حل کوونکو تعداد که زيات وي نو د قرعه اندازئ په ذريعه فيصله کيږي- په دې لوبه کښې ډير زيات خلق شريک کيږي، شرکت په دوو طريقو وي : (۱) مفت (۲) په معمولي فيس ، که د شُرکاؤ نه د څه قسمه فيس وانخلي او بل څه مانع شريعت هم نه وي نو د انعام اخستل جائز دي، او په کوم کښې چې د شريکانو نه فيس اخلي په هغې کښې که انعام ملاؤ شي او که نه رقم پکښې ډوبيږي، دا صورت د جوارئ دے کوم چې حرام او جهنم ته بوتلونکے دے-

## ﴿5﴾ پيسے جمع کول او قرعه اندازي کول

بعضې خلق يا ملګري په خپل مينځ کښې لږ لږ رقم راجمع کړي او بيا قرعه اندازي کوي د چا نوم چې راووخيژی ټول رقم هغه ته ملاويږي، دا هم جواري ده ځکه چې د باقي خلقو رقم ډوب شي- دغه شان کله کله پيسے جمع کړے شي او په هغې کتاب يا يو بل څيز واخلي، چې د چا نوم په قرعه اندازئ کښې راووځي هغه ته هغه کتاب ورکړے شي دا هم جواري ده- ياد ساتئ چې بعضې کمپنئ خپل مصنوعات اخستونکو ته د قرعه اندازئ په ذريعه انعامونه ورکوي دا جائز دي ځکه چې په دې کښې د هيڅ چا رقم نه ډوبيږي-

## ﴿6﴾ په مختلفو لوبو شرطونه لګول

دلته مختلفې لوبې مثلاً د اسُونو منډه [رَيس]، کرکټ، ګَيرم، بلِيرَډ، تاش، شطرنج، وغيره په دوه طرفه شرط باندې کيږي چې بَيلُونکے به ګټُونکي ته دومره رقم يا فلانکے څيز ورکوي دا هم جواري ده او ناجائزه او حرام دي- ګَيرم او بليرډ کلب وغيره کښې د لوبيدو په وخت کښې عموماً دا شرط کيښودلے کيږي چې د کلب فيس به بَيلُونکے ادا کوي، دا هم جواري ده- بعضې ”ناپوهه“ خلق په کورونو کښې په مختلفو لوبو مثلاً تاش يا لوډو باندې د دواړو طرفو نه شرط لګوي او بيا لوبه کوي او د کم علمئ په وجه په دې کښې څه حرج نه محسوس کوي دوئي دِ هم د دې نه قلار شي ځکه چې دا هم جواري ده او جواري حرامه او جهنم ته بوتلونکے کار دے-

## د جوارئ نه د توبه کولو طريقه

**جواري** کوونکے که [په خپله ګناه] پښيمانه شي نو هغه له پکار دي چې د **الله** پاک په بارګاه کښې ريښتوني توبه اوباسي خو چې کوم مال ئې ګټلے وي هغه به بيا هم حرام وي په دې باره کښې اعلیٰ حضرت، امام اهلِسنت، مولانا امام شاه احمد رضا خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن داسې رهنمائي فرمائي: څومره مال چې ئې په جوارئ کښې ګټلے هغه ټول حرام دے او د هغې نه د خلاصِي هم دا صورت دے چې د چا چا نه ئې

خومره مال ګټلے وی هغه ته دِ ئې واپس کړي، يا چې څنګه کيدے شي هغوئي دِ راضي کړي او پرې معاف دِ ئې کړي، يا چې په هغوئي کښې کوم کس بالغ وي د هغه حصه دِ د هغه په رضامندئ په هغه معاف کړي- که هغه نه وي نو د هغه وارثانو ته د ئې واپس کړي، يا چې په هغوئي کښې کوم عاقِل بالغ وي د هغوئي حصه دِ د هغوئي په رضا په هغوئي معاف کړي- د باقي کسانو حصه دِ ضرور هغوئي ته ورکړي ځکه چې د هغې معافي نه شي کيدے، او د کومو خلقو چې هډو پته اُونه لږي، نه د هغه او نه د وارثانو، نو د هغه نه ئې چې خومره مال ګټلے وو هغه دِ د هغوئي په نِيَّت خيرات کړي، اګر که هغه مال خپل محتاجه خور، ورور، خورئې، وراره له ورکړي- مخکښې نور فرمائي: غرض دا چې د کوم کوم ځائے نه چې ورته خومره ياد وي چې دومره مال د فلانکي نه په ګټلو بيلّلو کښې زيات شوے وو، نو هغه هُمره دِ هغه ته يا د هغه وارثانو ته ورکړي، که هغوئي نه وي نو د هغوئي په نِيَّت دِ ئې صدقه کړي، او د زيات ګټلو مطلب دا دے چې مثلاً يو کس سره ئې لس ځله جواري کړې وه، کله به ده ګټله او کله هغه، او د هغه (يعني د مقابل د جوارئ) د ګټلو (د رقم) مقدار سلو روپو ته اُرسيدو، او ده ټخپله ټولو لوبو کښې يو سل پينځه وِيشت ګټلي وي، نو سل سل خو برابرې شوې، او پينځه ويشت هغه له واپس ورکول دي- هم دومره دِ هغه ته واپس کړي- وَعَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ (يعني نور په هُم دې باندې قياس کړئ) او کوم ځائے چې ورته ياد نه وي چې (جواري کوونکي) څوک څوک وو او خومره مال ئې په جوارئ کښې ګټلے وو، هلته دِ د زيات نه زيات اندازه اولګوي چې په دې ټول وخت کښې به ئې د جوارئ نه خومره مال ګټلے وي نو هم هغه هُمره مال دِ د مالکانو په نِيَّت خيرات کړي، آخرت به ئې په هم دې طريقه پاکيږي- وَاللّٰهُ تَعَالٰى اَعْلَم- (فتاوٰی رضويه،651/19)

## د وفات شوی کس بدي بيانول هم غيبت دے

حضرت سيّدنا ابو هُريره رضی اللہ تعالٰی عنہ فرمائي: ماعِز اَسلَمِي رضی اللہ تعالٰی عنہ چې کله رجم کړے شو ،(يعني د زِنا "حد" کښې په کاڼرو دومره اُوويشتلے شو چې وفات شو) دوه

کسان خپل مينځ کښې په خبرو شو، يو کس بل ته اووئيل: ده ته اوګوره چې **الله** پاک د ده پرده ساتلې وه خو د ده نفس پرينه ښودو، رُجِمَ رَجْمَ الْكَلْبِ يعني د سپي په شان رَجم کړے شو- حُضُور نبي کريم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا واوريدل نو خاموشي ئې اختيار کړه څه وخته پورې روان وو، په لاره کښې يو مړ خر پروت وو او ښپې ئې خوَرے نيولې وے- نبي کريم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه دواړو کسانو ته اوفرمائيل: ورشئ او د هغه مُردار خر غوښه اوخورئ- هغوئي عرض اوکړو: يا نبيَّ الله! دا به څوک [څنګه] اوخوري؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: هغه کومه چې تاسو د خپل ورور بے عِزَّتي اوکړه، هغه د دې خر د خوړلو نه هم زياته سخته ده- زما دِ قسم وي په هغه ذات د چا په قبضه کښې چې زما ساه ده! هغه (يعني ماعِز) دا وخت د جنّت په نهرونو کښې غوپې وهي- (ابوداود،4/197،حديث:4428)

## ”فلانکي خودکشي اوکړه“ داسې وئيل غيبت دے

معلومه شوه چې د مړو بدي بيانول هم غيبت دے- بعضې وخت کښې ډير د صبر د ازميښت معامله وي- مثلاً ډاکو، دهشت ګرد، د خپل عزيز قاتل وغيره قتل کړے شي يا هغوئي ته پانسِي ورکړے شي نو بعضې وخت کښې خلق په غيبت کښې اخته کيږي دغه شان د خودکشي کوونکي مسلمان په باره کښې بلا اجازت شرعي داسې وئيل چې ”فلانکي خودکشي اوکړه“ دا غيبت دے. دغه شان د نوم او پيژندګلو سره د يو مسلمان د خودکشئ خبر په اخبار کښې ورکول نه دي پکار، ځکه چې په دې ذريعه د مړي غيبت هم کيږي او دې سره سره د مرحوم د اهل و عيال په عزت باندې هم داغ لګي- خو که په داسې انداز کښې ئې تذکره اوکړه چې لوستونکو يا اوريدونکو ته د خودکشئ کوونکي پيژندګلو حاصله نه شي چې هغه څوک وو نو بيا باک نشته خو دا ياد ساتئ چې نوم خو ئې وانخستو خو کلے، کوڅه، قوم، اوقات، د خودکشئ انداز وغيره ئې په داسې انداز کښې بيان کړل چې د هغې په ذريعه د خودکشي کوونکي پيژندګلو کيدے شي، لِهذا په داسې انداز

کښې تذکره کول چې اوپیژندلے شي نو دا هم په غیبت کښې شامل دي- مسئله دا ده چې مسلمان په خودکشئ کولو د اسلام نه نه خارجیږي د هغه د جنازے لمُونځ به هم ادا کیږي، د هغه د پاره به د مغفرت دعا هم کیږي، د مړ شوي مسلمان بدي بیانولو په اسلام کښې اجازت نِشته په دې باره کښې دوه حدیثونه ملاحظه کړئ: (۱) خپلو مړو ته بد مه وائې ځکه چې هغوئي خپلو مخکښې لیږلو اعمالو ته رسیدلي دي- (بخاری،1/470،حدیث:1393) (۲) د خپلو مړو صفتونه بیانوئ او د هغوئي د بدو [بیانولو] نه ځان ساتئ- (ترمذی،2/312، حدیث:1021) حضرت حضرتِ عَلّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيه لیکي: د مړي غیبت کول د ژوندي د غیبت کولو نه زیات بد دي، ځکه چې په ژوندي باندې معاف کول کیدے شي او په مړي باندې معاف کول نه شي کیدے- (فیض القدیر،1/562،تحت الحدیث852)

## مړي له غسل ورکوونکے دِ د مړي بدي نه بیانوِي

د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوت اسلامي د مَكْتَبَةُالْمَدِينه کتاب، "بهارِ شریعت" جِلد اوّل صفحه ۸۱۱ کښې لیکلي دي: (مړي له د غُسل ورکولو په وخت کښې) چې کومه ښه خبره اُووِیني مثلاً مخ ئې اوځلیدو یا د مړي د بدن نه خوشبو راغله، نو دا دِ د خلقو په مخکښې بیانوي او که بَده خبره اُووِیني، مثلاً د مخ رنګ ئې تور شو یا ترینه بد بُوئي راغے یا ئې په صورت او اندامونو کښې څه بدلون راغے نو دا دِ چا ته نه بیانَوِي او داسې خبره کول جائز هم نه ده ځکه چې په حدیث پاک کښې دي: "د خپلو مړو صفتونه بیانوئ او د هغوئي د بدو [بیانولو] نه ځان ساتئ-"

## د مرګ نه پس ئې په اوچت آواز کلمه اووئیله!

که چرته یو مسلمان د مرګ په وخت کښې په ښکاره کلِمه او نه وئیله او بل چا اوئیل "چې ده ته کلِمه نصیب نه شوه" نو هغه د دې مړ شوي کس غیبت اوکړو، په دې باره کښې یو ایمان افروز حکایت ملاحظه کړئ: چنانچه حضرت علامه عبدالحئ لکهنوي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيه فرمائي چې زما په بزرګانو کښې یو ولِيُ الله یعني

مولانا محمد اظهارُ الحق لکهنوي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ وفات شو او د وفات په وخت کښې ئې [په ښکاره] کِلِمه اُونه وئیله، خلقو پرې څادر واچولو او د غُسل او کفن انتظام ئې اوکړو، چې ټول خلق بهر اُووتل نو بعضو د طعن په طور اُووئیل چې په ښکاره خو ښه مُتَّقِي وو او د مرګ کیدو په وخت کښې ئې د خُلې نه کلمه هُم اُونه وتله، په دې خبره ټول حاضِرین خفه شولو، په دې کښې مولانا مرحوم دواړه ښپې راغونډې کړې او په اوچت آواز ئې کلمه اووَئیله، چې خلقو په خپلو غوږونو هغه آواز واوریدو نو طعن کوونکو ته ئې ډیر رَد بَد اووئیل- (غیبت کیا ہے، ص19)

## د مړ شوي کافر غیبت

شارِحِ بخاري شریف مفتي شریف الحق امجدي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ لیکي:د کفّارو بدي بیانول جائز دي اګر که هغه مړه شوي وي، البتّه که د مړ شوي کافر اهل و عیال مسلمانان وي او د هغوئي د کافرو مور و پلار یا اُصول (یعني نیکهٔ وغیره) بدي بیانولو باندې هغوئې ته تکلیف رَسي نو د دې نه ځان ساتل ضروري دي ځکه چې دا اوس مسلمان ته تکلیف ورکول شو او مسلمان ته تکلیف وَرکول جائز نه دي-

(نزہۃ القاری،2/886)

شہا منڈلا رہی ہے موت سر پر پھر بھی میرا نفس
گناہوں کی طرف ہر دم ہے مائل یا رسول اللہ

## د سود نه غټه ګناه کومه ده؟

زمونږ خوږ آقا، د مدینے جانان صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابه کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان نه تپوس اوکړو: آیا تاسو ته معلومه ده چې د **اللّٰه** پاک په نزد د سُود نه لویه ګناه کومه ده؟ صحابه کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم عرض اوکړو: **اَللّٰہُ وَرَسُوْلُہٗ اَعْلَمُ** یعني **اللّٰه** پاک او د هغه رسول بهتر پوهیږي- اوئې فرمائیل: بے شکه د **اللّٰه** پاک په نزد د سُود نه لویه ګناه ده د مسلمان عزّت حلال ګڼړل- (شعب الایمان، 5/298، حدیث:6711) بیا نبي کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ

وسلّم دا آيت کريمه تلاوت کړو:

| | |
|---|---|
| وَ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۸﴾ (پ22،الاحزاب:58) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : او څوک چې ايمان والا سړو او ښځو ته بے کړو تکليف ورکوي هغوئي بهتان او ښکاره ګناه په خپل سر واخسته- |

اے **عاشقان رسول!** يقيناً د مسلمان عزت ته لاس اَچوَل د سُود د ګناه نه هم زيات بدتر دي- په دې باره کښې نور درې حديثونه ملاحظه کړئ:

## د مسلمان په عزّت لاس اچول د سود نه لويه ګناه ده

﴿1﴾ انسان ته ملاويدونکے د سُود يو دِرهم د **اللّٰه** پاک په نزد شپږ ديرش ځله زنا کولو نه زيات بد دي او بےشکه د سُود نه لويه ګناه د يو مسلمان بےعزتي کول دي- (ذم الغيبة، ص80،حديث:36)

﴿2﴾ سُود د دوه اَويا ګناهونو مَجمُوعه ده او په هغې کښې د ټولو نه کمتره ګناه خپلې مور سره د زِنا کولو پشان ده او بےشکه د سود نه زياته ګناه د يو مسلمان بےعزتي کول دي- (معجم اوسط، 227/5،حديث:7151)

﴿3﴾ بدترينه سُود د مسلمان په عزت کښې لاس وهل دي- (ابوداود،353/4، حديث:4876)

د دريم نمبر حديث لاندې مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ فرمائي: يعني سود بدترينه ګناه ده لکه د مور سره په کعبه معظمه کښې زنا کول، سود خور سره د **اللّٰه** پاک او رسولُ اللّٰه سره د جنګ کولو اعلان شوے دے، دا خو د مالي سود حال دے، ولې چې د مسلمان عزت د مال نه زيات عزيز او قيمتي دے، په هُم دې وجه د مسلمان بے عِزَّتي (يعني غيبت وغيره کول)، او هغه ذليله کول بدترينه سود قرار کړے شوے دے- (مراٰۃ المناجيح، 618/6)

بالیقین ایسے مسلماں ہیں بڑے ہی ناداں　　اہلِ اسلام کی غیبت جو کیا کرتے ہیں

جو ہیں سلطانِ مدینہ کے حقیقی عاشق　　غیبت وچُغلی وتہمت سے بچا کرتے ہیں

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

توبو الي الله!　　استغفر الله

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مسلمان د عزت د حفاظت ثواب

اے عاشقان رسول! ستاسو په مخکښې چې کله هُم څوک د يو اسلامي وروړ خَطا يا د هغه عَيب د هغه په موجودګئ کښې يا پشي شا بيانول شروع کړي نو که په اوريدلو کښې څه شرعي مَصلحَت نه وي نو فوراً د احترامِ مسلم د لحاظ ساتلو او د آخرت د ثواب ګټلو په نيت د خپل اسلامي وروړ د عزت حفاظت کوئ- د نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د خپل (مسلمان) وروړ په غير موجودګئ کښې د هغه د عزت حفاظت اوکړي نو د **الله** پاک په ذِمّهٔ کرم دي چې هغه د جهنم نه آزاد کړي- (مسند امام احمد، 445/10، حديث:27680)

د حضرتِ سَيِّدُنا انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې حُضُور نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: چا چې په دُنيا کښې د خپل وروړ د عِزَّت حفاظت اوکړو، **الله** پاک به په ورځ د قيامت يوه فرښته راليږي چې هغه به جَهنَّم نه د هغه حفاظت کوي. (ذم الغيبة، ص131، حديث:105)

## غيبت نه د منع کولو خلور فضائل

د مسلمان غيبت کوونکے د قدرت لرَلو په صورت کښې منع کول واجِب دي، منع کول عظيم ثواب او نه منع کول د عذابِ اَلِيم (يعني دردناک عذاب) باعث دي په دي باره کښې خلور حديثونه د نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ملاحظه کړئ:

(۱) د چا په مخکښې چې د هغه د مسلمان وروړ غيبت اوکړے شي او هغه د هغه په مدد کولو قادر وي او مدد ئې اوکړي، **الله** پاک به په دنيا او آخرت کښې د هغه مدد

کوي او که د قدرت لرلو باوجود ئې د هغه مدد اونـﮐړو نو **الله** پاک به په دنيا او آخرت کښې هغه نِيسي- (مصنف عبدالرزاق،188/10،رقم:20426)

(۲) څوک چې د خپل وررور د غوښې نه د هغه په غيرموجودګئ کښې منع اوکړي (يعني د مسلمان غيبت کيدو او ده منع کړو) نو په **الله** پاک باندې حق دے چې هغه د جهنم نه آزاد کړي (مشکاة المصابيح، 70/3، حديث: 4981)

(۳) کوم مسلمان چې د خپل وررور د بےعزتئ نه منع اوکړي (يعني د مسلمان بے عزتي کيدله او ده منع کړه) نو په **الله** پاک باندې حق دے چې د قيامت په ورځ هغه د جهنم د اور نه اوساتي- د دې نه پس ئې دا آيت تلاوت کړو: ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾﴾ [مَفهوم]ترجمۂ کنزالاِيمان: او زمونږ په ذِمّهٔ کرم دې د مسلمانانو مدد کول-

(پ21، الروم:47) (شرح السنّة،494/6، حديث:3422)

(٤) کوم ځائے کښې چې د مسلمان بے حُرمتي کيږي او د هغه بے عزتي کيږي په داسې ځائے کښې چې چا د هغه مدد اونـﮐړو (يعني ده په خاموشئ سره اوريدلو او هغوئي ئې منع نه کړل) نو **الله** پاک به د ده مدد نه کوي کوم ځائے کښې چې د ده خوښه وي چې [د ده] مدد اوکړے شي او څوک چې د مسلمان مدد اوکړي په داسې ځائے کښې چې د هغه بے حُرمتي او بےعزتي کيږي، **الله** پاک به د ده مدد کوي په داسې موقع باندې کوم ځائے چې ده ته خوښ وي چې د ده مدد اوکړے شي-

(ابوداو،355/4،حديث:4884)

## د غيبت کوونکي په مخکښې تعريف

زمونږه اسلافو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به چې د چا نه د يو مسلمان غيبت اوريدو نو هغه به ئې فوراً منع کولو او د هغوئي انداز به هُم څومره ښکلے وو! چنانچه د حضرت سيدنا عبدالله بن مبارک رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په مجلس کښې يو کس د امام اعظم ابوحنيفه رَحْمَةُ اللّٰه تَعَالٰی عَلَيْه غيبت اوکړو نو هغوئي اوفرمائيل:اے بنده! ته د امام عَيب ولے بيانَوې! د

هغوئي شان خو دا وو چې پينځه خلويښت کاله پورې به ئې په يو اوداسه پينځه وخته لـمونځ ادا کولو۔ (الخيرات الحسان، ص117، ردالمحتار،150/1)

## د غيبت کوونکي نه د ځان خلاصولو طريقه

اے عاشقانِ اولياء! زمونږ د بزرګان دين رحمهم اللہ تعالٰی د ګناهونو نه ډک غيبتونو اوريدلو نه د بچ کيدلو جذبه مرحبا! کاش! صد کروړ کاش! چې زمونږه هُم دا ذهن جوړ شي. [مُحترمو اسلامي ورونړو!] چې څنګه هم د مسلمان منفي تذکره شروع شي نو فوراً خبرداره شئ او غور اوکړئ، که هغه تذکره په غيبت باندې مشتمله وي يا غيبت طرف ته بوتلونکې وي نو فوراً ترينه قلار شئ ، که بل چا دا تذکره شروع کړې وي نو په ښه مناسب طريقه ئې پوهه کړئ، که هغه منع نه شي نو د هغه ځائے نه پاڅئ، که د هغه منع کول يا د هغه ځائے نه لرې کيدل ممکن نه وي نو په زړه کښې ئې بده اوګڼړئ، ښه په ترکيب سره خبره بدله کړئ او په هغه خبرو کښې دلچسپي مه اخلئ، مثلاً اخواه ديځوا کتل شروع کړئ، په مخ باندې د بے زارئ آثار ښکاره کړئ، بيا بيا ګړئ ته ګورئ او د [دې خبرو نه] د تنګيدلو اظهار اوکړئ، که ممکنه وي نو استنجا خانے ته د تللو په بهانه ترينه پاڅئ او چې ستاسو وينا دروغ نه شي په دې وجه استنجا خانے ته هُم لاړ شئ۔ [ځکه چې] "د غيبت په ځائے" کښې د حاضر اوسيدلو په ځائے مجبوراً په استنجا خانه کښې وخت تيرول ډير مناسب عمل دے، اِنْ شَآءَاللّٰه په دې به هم ثواب ملاو شي۔

اَخلاق ہوں اچّھے مِرا کردار ہو ستھرا
محبوب کے صدقے میں مجھے نیک بنادے
(وسائلِ بخشش، ص115)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نيک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کېدونکې د دعوتِ إسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے إلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتو د تربيَت د پاره مَدَني قافلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِكرِ مَدينه" په ذريعه د مَدَني إنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښار ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي" إن شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافلو" کښې سفر کول دي. إن شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com